د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې
د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه



# د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان ارزونه

۱۳۹۶ د کب میاشت

کابل، افغانستان

/MEC_Afghanistan www.mec.af /mec.afghanistan

# مخففات

| | |
|---|---|
| AC | د اداري فساد پر وړاندې مبارزه |
| ACP | د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلان |
| AD | د آرشیف ریاست |
| ADB | د آسیا پراختیایي بانک |
| ARID | د افغانستان د کلیو بیارغونې انستیتوت |
| PIRoA | د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر |
| SMAF | د متقابلې حسابورکونې چوکاټ له لارې ځان بساینه |
| ToR | د دندو لایحه |
| WB | نړیوال بانک |

# د موضوعاتو نوم لړ


لنډیز ........ ۳

میتودولوژي ........ ۵

۱: د تدوین پړاو ........ ۵

۲: د پلې کولو پړاو: ........ ۵

لومړۍ موخه. د پروژې د پلان جوړونې په بهیر کې د ناقانونه لاس وهنو مخنیوی ........ ۷

دویمه موخه. د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت کې د بریښنایي حکومتوالۍ پیاوړي کول ........ ۸

لومړی فعالیت ........ ۹

دوهم فعالیت ........ ۹

دریم فعالیت ........ ۹

دریمه موخه: د ځواب وینې او مسوولیت منلو د کلتور ترویجول ........ ۱۰

لومړی فعالیت ........ ۱۰

دویم فعالیت ........ ۱۰

دریم فعالیت ........ ۱۱

څلورمه موخه: د موازي ادارو د یو ځای کولو له لارې د وظیفوي تداخل مخنیوی ........ ۱۲

د څارنې او ارزونې پړاو ........ ۱۲

سپارښتنې ........ ۱۳

## لنډیز

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر حکم، د متقابلې حسابورکونې د چوکاټ له لارې په ځان بساینې(SMAF)سند او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ملي ستراتیژۍ، د افغانستان حکومت ټول عایداتي او پالیسي جوړونکي وزارتونه مکلفوي چې اداري فساد سره د مبارزې خپل پلانونه تدوین کړي او د پلي کیدو له بهیر څخه یې خلکو ته راپور ورکړي.

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې د یوې خپلواکې کمیټې په توګه چې په افغانستان کې د فساد په وړاندې د مبارزې د ملي او نړیوالو هڅو څارنه کوي، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان ارزولی دی. د دغې ارزونې موخه د یاد وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان د تدوین او پلې د پړاونو د نیمګړتیاوو په ګوته کول او د نیمګړتیاوو د لمنځه وړلو په موخه د ځانګړو سپارښتنو صادرول دي.

د یادې ارزونې موندنې ښیي چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د زیانمننو د تشخیص په موخه د احتمالي خطرونو ارزونه نه ده ترسره کړې او د احتمالي خطرونو د لمنځه وړلو لپاره یې کوم هر اړخیز پلان نه دی چمتو کړی. سر بیره پر دې، د هغې کمیټې د غړو شمیر ډیر کم دی چې د نوموړي وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان د جوړولو او تدوین په موخه ګمارل شوې وه. سر بیره پر دې، ډیری مهمو ریاستونو ته د یاد پلان د تدوین په بهیر کې ونډه نه وه ورکړل شوې. له بله پلوه، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت یاد پلان د وزارت له ټیټ پوړو کارکوونکو سره شریک او همغږی کړی نه دی.

د ارزونې پر مهال، دا و موندل شوه چې یاد وزارت د پلان د تطبیق څخه د څارنې، په پروسه کې د نیمګړتیاوو د تشخیص او په دې برخه کې د وزارت مشرتابه ته د راپور ورکولو لپاره کوم ځانګړی ټیم نه دی ګمارلي.

د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان څلور لومړیتوبونه او نهه فعالیتونه لري چې له دې ډلې څخه درې فعالیتونه په بشپړه توګه ، درې نور یې قسما او یو یې په تیرو کلونو کې پلي شوي دي او دوه نورې یې تر اوسه نه دې پلي شوې. د فساد په وړاندې د مبارزې پلان کې ځینې داسې فعالیتونه شته چې په تیرو کلونو کې ترسره شوې دي، خو بیا هم د دغه پلان د روان کال په فعالیتنونو کې شامل شوې دي. همدارنګه ځینې نور فعالیتونه هم شته چې تطبیق شوي دي ، خو په هکله یې اسناد موجود ندي.

د څارنې او ارزونې کمیټې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې پلان د سمون او د یاد پلان د پلي کیدو لړۍ څخه د سمې څارنې په موخه یاد وزارت ته اته ځانګړې سپارښتنې وړاندې کړې دي.

# سریزه

په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان په اړه د بروکسل کنفرانس څخه وړاندې، د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر د هیواد ټولو عایداتي وزارتونو ته هدایت ورکړ چې په چارو کې د روڼتیا د تامین په موخه د فساد په وړاندې د مبارزې خپل پلانونه تدوین کړي. همدارنګه، د SMAF سند هم د هیواد پنځه عایداتي وزارتونه مکلفوي ترڅو خپل د اداري فساد سره د مبارزې پلانونه تدوین او د پلي کیدو له بهیر څخه یې خلکو ته راپور وکړي.[1] همداراز، پالیسي جوړونکې وزارتونو او د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت په ګډون خدماتي وزارتونو ته دنده وسپارل شوه چې د فساد په وړاندې د مبارزې خپل پلانونه جوړ کړي.

د حکومت د یو وزارت په توګه د کلیو د بیارغونی او پراختیا وزارت دنده لري چې د فقر او بیوزلۍ د کمولو، ټولنیزو خدمتونو ته د لاس رسي، د کوکنارو د کښت پرته د دوامداره معیشت رامنځنته کولو او د سیمه ایزي حکومتوالۍ د سمون له لارې د کلیو او باندو خلکو ټولنیزه، اقتصادي او سیاسي هوساینه تامین کړی.[2] د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې په کلیو کې له عامو خلکو سره له نږدې کار کوي.[3] د وزارت نوی تشکیل ( د وزارت اداري تشکیل چارت چې د کارکوونکو بستونه او رتبې پکې ښودل شوې دي)، ښیي چې د وزیر تر مشرۍ لاندې دوه معینان او ۵۲ ریاستونه فعالیت کوي. چې له دې ډلې ۳۴ ریاستونه په ولایتونو او پاتې ۱۸ یې په مرکز کې فعالیت کوي.[4] سربیره پر دې، له شپږو ډیر ملي او ولایتي پروګرامونه د وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي چې په کلیو او باندو کې پراختیایي فعالیتونه ترسره کوي.[5]

د وزارت د تشکیل له مخې، دغه وزارت له ۲۰۰۰ څخه ډیر دایمي کارکوونکي لري. سربیره پر دې، نور قراردادي کارکونکي هم شتون لري چې په مرکزي او ولایتي پروګرامونو کې د کلیوالو سیمو لپاره کار کوي.

ددې لپاره چې وزارت خپلې دندې او ماموریت ترسره کړي، او همدارنګه په کلیو او باندو کې ټولنیزه او اقتصادي پرمختګ او وده تامین کړي، دغه وزارت مکلف دی چې د فساد په وړاندې کلکه مبارزه وکړي. د اداري فساد په وړاندې د مبارزې پلان تدوین د وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې د هڅو یوه برخه ده.

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان په څلور کاري ساحو تمرکز کوي:

۱. د پروژو د پلان جوړونې په بهیر کې د لاس وهنو مخنیوی
۲. د کلیو د بیارغونی او پراختیا وزارت د بریښنایي حکومتوالي وده
۳. د ځواب وینې د کلتور دودول، او
۴. د موازي ادارو د یوځاي کولو له لارې د وظیفوي تداخل مخنیوی.

---

۱ په خپلو پښو ودریدل، د ګډې حساب ورکونی د کاري چوکاټ له لارې. ضمیمه: تر ۲۰۱۶ کال پورې لنډمهاله لاس ته راوړنې http://www.mofa.go.jp/mofaj/files/۰۰۰۱۰۲۲۵٤.pdf

[2] دغه ویب پاڼه وګورئ: http://mrrd.gov.af/fa/page/۲۰۷/٤۰, وروستې کتنې یې د ۲۰۱۷ کال د دسامبر په اتمه شوې ده.

[3] ibid

[4] ibid

[5] ( د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، د پروګرام نومونه د بشري سرچینو د ریاست له لورې شریک شوې دي)

# میتودولوژي

د څارنې او ارزونې کمیټې، د ۲۰۱۷ کال د نومبر په میاشت کې، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان بیاکتنه وکړه او د همدې کال د دسامبر په ۳۰ مه نیټه یې اړوند معلومات راټول او بشپړ کړل. د دغې ارزونې موخه دا وه چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د پلي کیدو څرنګوالی او اغیزمنتیا وارزول شي او په دې برخه کې وزارت ته اړینې سپارښتنې وشي.

د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې د پلان د ارزونې په موخه د څارنې او ارزونې کمیټې یو شمیر ثانوي څیړنې تر سره کړې، او د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت اړوندو پالیسیو، تګلارو او اسنادو د تحلیل او تجزیې ترڅنګ یې د یاد وزارت له چاروکو او مسولینو سره بیلابیلې مرکی هم ترسره کړې دي. د څارنې او ارزونې کمیټې همدارنګه د اړینو مالوماتو د ترلاسه کولو په موخه د نومړي وزارت له چارواکو سره ځینې تعقیبې ناستې هم ترسره کړې دي.

په ټولیزه توګه، د څارنې او ارزونې کمیټې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت له ۳۵ لوړ پوړو او منځنې کچې چارواکو او مسوولینو سره مرکې ترسره کړې دي. د راټولو شویو مالوماتو د تایید په موخه د څارنې او ارزونې کمیټې همدارنګه د رسنیو له استازو سره مرکې ترسره کړي دي او هڅه یې کړې ده چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د فعالیتونو په اړه خپاره شوي راپورونه هم وګوري.

د افغانستان د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د اداري فساد سره د مبارزې د پلان د ارزونې په اړه د څارنې او ارزونې کمیټې رپوټ په عمومي توګه په لاندې دریو برخو ویشل شوی دی.

## ۱: د تدوین پړاو

پدې پړاو کې ټول هغه اړخونه د پوښښ لاندې نیول شوې دي چې د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان جوړونې په پړاو کې ترسره شوې دي.

## ۲ : د پلي کولو پړاو:

د پلې کیدو پړاو ټول هغه فعالیتونه د پوښښ لاندې نیسي چې د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان هر لومړیتوب د تر لاسه کولو لپاره ترسره شوې دي.

## ۳ : د څارنې او ارزونې پړاو:

د څارنې او ارزونې پړاو د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د کره پلي کیدو په اړه راپور ورکوي.

## ۱. د پلان د تدوین پړاو

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان جوړولو لپاره یوه کمیټه ګمارلې. د وزارت د کارکونکو سره د مرکو او د اداري فساد سره د مبارزې د پلان پر اساس، د کمیټې لپاره ګمارل شوې غړي په لاندې ډول دي : د څارنې او ارزونې رئیس، داخلي تفتیش، پالیسي او پلان جوړونې رییس ، اداري او د پراختیا لپاره د افغانستان د کلیو انستیټوټ (ARID ).[٦] د کمیټې غړو هغه ساحې چې فساد پر وړاندې زیانمونکې وې د خپلو تجربو په بنسټ په ګوته کړلې او د فساد په وړاندې د مبارزې پلان یې چمتو کړ تر څو دغه زیانمنې د پوښښ لاندې راولي. دغه پلان څلور لومړیتوبونه لري، ددې لپاره چې دغه لومړیتوبونه ترلاسه شي نوموړې کمیټې د فساد په وړاندې د مبارزې په پلان کې نهه فعالیتونه تسجیل کړې دي.
د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې ښیي چې د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د جوړونې او تدوین څخه وړاندې د فساد د خطرونو ارزونه نه ده ترسره شوې.[٧] دا اړینه ده چې هره دولتی اداره باید د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د جوړولو مخکې د خطرونو کره ارزونه ترسره کړي، تر څو د خپلو لړو سرچینو پر مټ وکړای شي هغه برخې چې د فساد پر وړاندې ډیرې زیانمننونکې دي اصلاح کړي. د دغه ډول ارزونې د نشتون په صورت کې په عمومي ډول د فساد په وړاندې یو لړ زیانمننونکې ساحې د پلان څخه پاتې کیږي.
نو له دې امله د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د وزارت په کچه ټولې زیانمننونکې برخې ترپوښښ لاندې نه راولي او په دغه پلان کې د تسجیل شویو فعالیتونو پلي کول په وزارت کې د فساد د کچې د کمولو تضمین نشي کولای. د بیلګې په توګه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د تدارکاتو د پروسې ټول پړاونه تر پوښښ لاندې ندي راوستي. د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې د نورو اداراتو څخه دا ښیي چې د تدارکاتو پروسه د فساد پر وړاندې زیاته زیانمنه ده او د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت لدې څخه مستثنی کیدای نشي.

سربیره پردې، د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې ښیي چې د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د پنځو رییسانو په غړیتوب د یوې پنځه کسیزې کمیټې له خوا تدوین شوی دی خو یاد پلان له اړوندو ریاستونو سره په سمه توګه همغږی او شریک شوې نه دی.

همدارنګه د فساد سره د مبارزې پلان عمومي جوړښت هم یو لړ نیمګړتیاوې لري . په پلان کې مندرج فعالیتونه په کره توګه د SMART شاخصونو سره سم نه دي چمتو شوي ، نو څکه د ځینو فعالیتونو د پرمختګ د سنجش او ارزونې په برخه کې یې ځینې ستونزې راولاړې کړې دي. وزارت باید د پلان د فعالیتونو د ښه اندازه کولو په موخه مشخص، د اندازه کولو او تر لاسه کولو وړ، واقعي او مهالویش لرونکي شاخصونه طرحه کړي[٨]. همدارنګه د دویمې موخې لومړې فعالیت چې د آرشیف څانګې به جوړولو ټینګار کوي د اداري فساد سره د مبارزې پلان له جوړیدو مخکې ترسره شوی دی ، خو بیا هم په یاد پلان کې شامل شوی دی.
د یادونې وړ ده چې د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت ځینې مثبت ګامونه هم پورته کړې دي، نوموړي وزارت د رسنیو او عامه وګړو سره د معلوماتو په شریکولو کې فعاله ونډه اخیستې. دغه کار د یاد پلان د نهو فعالیتونو څخه یو فعالیت دی. په دې ورستیو کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت معلوماتو ته د لاس رسي کمیسیون له لوري د "طلایې کیلي" جایزه ترلاسه کړې

---

[٦] د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت سره د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډې کمیټې مرکه، د ۲۰۱۷ کال دسامبر دریمه
[٧] ibid
[٨] https://www.linkedin.com/pulse/۲۰۱٤۱۰۲۲۰۷۱۸۰۳-۱۸۹۲۷۸۱٤-a-good-start-with-s-m-a-r-t-indicators

ده، ددغه شان جایزې ترلاسه کول ددې څرګندونه کوي چې یاد وزارت په دې برخه کې د خلکو او رسنیو په وړاندې ځان ژمن او مسوول ګڼي.

## ۲. د پلي کولو پړاو

د څارنې او ارزونې کمیټې د موندنو له مخې د نهه فعالیتونو څخه دوه فعالیته په بشپړه توګه، درې فعالیته په قسمي توګه او دوه فعالیته پخوا په تیرو کلونو کې پلي شوي وو او همدارنګه پاتې دوه فعالیته تر اوسه نه دي پلي شوي. د نه تر سره شوو فعالیتونو تر ټولو لوی لامل د هغه فعالیتونو د اسنادو نشتون دې چې وزارت ترسره کړې دي. د څارنې او ارزونې کمیټه د د پلان د تطبیق په اړه خپلې موندنې په لاندې ډول وړاندې کوي::

### لومړي موخه. د پروژې د پلان جوړونې په بهیر کې د ناقانونه لاس وهنو مخنیوی

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۱ | د پروژو د پلان جوړونې/ټاکنې لپاره د هراړخیزې کړنلارې جوړول کړنلاره باید مشخص او واضح شاخصونه او معیارونه ولري ترڅو د خلکو په همکارۍ ګټورو او اغیزمنو پروژو ته لومړیتوب ورکړل شي\ | د کړنلارې د پشپړیدو په موخه د ترسره شوي کار سلنه. | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له لارې ګڼ شمیر پروګرامونه چې بسپنه یې مرسته کوونکې اداري ورکوي ( د تړون یا قرارداد له مخې پروګرمونه) د هیواد په کلو او باندو کې پلي کیږي.[۹] د هغه کاري لایحې له مخې چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له لوري د څارنې او ارزونې کمیټې ته سپارل شوې، په دغه وزارت کې لاندې پروګرامونه[۱۰] اوس مهال پلې کیږي: د څښاک د اوبو د برابرولو، چاپیریال او روغتیا ساتنې او اوبو لګولو ملی پروګرام، د کلیوالي صنایعو د پراختیا ملي پروګرام، کلیو ته د سړک جوړولو ملی پروګرام، د سیمه ایز پروګرام د همغږۍ دفتر، د ولسي تړون پروګرام او د افغانستان او تاجکستان په پوله د معیشت د ودې پروګرام شامل دي. له یادو پروګرامونو څخه ځینې یې د افغانستان ۳۴ ولایتونه د پوښښ لاندې نیسي او ځینې یې بیا په ولایتې یا حوزوي کچه پلي کیږي، په دې معنی چې د هیواد په ځینو سیمو او یا ولایتونو کې پلي کیږي. هر پروګرام د خپلې کاري ساحې په چوکاټ کې په کلیو او کلیوالو سیمو کې پرمختیایې پروژې پلي کوي، د بیلګې په توګه خلکو ته بنسټیز خدمتونه برابرول، د تصدیو جوړول، د سړکونو، پلونو او نور جوړول. ۱۱

---

[۹] دغه پروګرامونه د بیلا بیلو بسپنه ورکونکو له لوري تمویل کیږي لکه نړیوال بان، د آسیا پرمختیایي بانک، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، د جاپان د نړیوالو مرسته اداره، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق

[۱۰] د بیلابیلو پروګرامونو د کاري لایحې لیست چې د کلیو د بیارغونې او پراختیآ وزارت د بشري سرچینو د ریاست له لوري شریک شوې دي

[۱۱] د هغه پروګرامونو لیست چې د افغانسنان په بیلابیلو کلیو کې پرمختیایي او د اسانتیاو برابرولو پروژې پلي کوي، د وزارت په ویب پاڼه کې د پروګرام عنوان لاندط لیست شوې دي. دغه مغلومات د ۲۰۱۷ کال د نومبر په ۲۳ له دغه ویب پاڼې څخه تر لاسه شوې دي: www.mrrd.gov.af

د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت هغه چارواکي چې د څارنې او ارزونې کميټې له لورې د دغه بياکتنې لپاره ورسره مرکې ترسره شوې دي، دا په ګوته کړې ده چې په وزارت کې د فساد يو خطر چې په کليوالو سيمو کې د پروژو پلې کولو پورې اړه لري د پروژو انتخاب او د هغې سيمې ټاکل دي چې پروژه پکې پلې کيږي.[12]

څرنګه چې بهرنی سياسي نفوذ په ځينو کليوالو سيمو کې د پروژو د نا انډوله پلې کيدو لامل ګرځي، نو له دې امله په اوږدمهال کې کيدای شي چې د هيواد په بيلابيلو سيمو کې نا متوازنه وده او پراختيا را منځته شي. هغه سيمې چې ډير سياسي ځواک او نفوذ لري ډير پرمختيايي کارونه به پکې ترسره او ډيرې اسانتياوې ولري او له نورو سيمو څخه به چې کمې پروژې پکې پلي کيږي مخ ته لاړې شي.[13]

ددې لپاره چې د پروژو په انتخاب کې د بهرني نفوذ مخنيوی وشي او په کليوالو سيمو کې د پروژو د پلي کولو په برخه کې انډول په پام کې ونيول شي، د وزارت د پلان او پاليسي رياست يوه کړنلاره چې د پروژو د انتخاب د پلان جوړونې د بهير (۲۰۱۷) په نوم ياديږي جوړه کړې ده، چې دغه کار ددې شونتيا را منځ ته کوي څو پروژې په هغه سيمو کې پلي شي چې پخوا پکې کمې پروژې پلې شوې دي. دغه کړنلاره چې په ۲۰۱۷ کال کې جوړه شوې ده او د کليو بيارغونې او پراختيا وزير تر اوسه نه ده تاييد کړې د څارنې او ارزونې کميټې سره شريکه شوې. ياده کړنلاره به د وزارت د مقام د منظورۍ وروسته د پروژو په پلي کيدو کې د اجرا او تطبيق وړ وي.

په دغې کړنلارې کې د پروژو د انتخاب ټول پړاونه په روښانه او واضح توګه بيان شوي دي. د دغې کړنلارې له مخې، د هيواد د ولسواليو او ولايتونو اوسيدونکي به د پروژو په انتخاب کې په مستقيم ډول ښکيل وي. خو، په دغې کړنلارې کې د پروژو د انتخاب پړاونه ډير په عمومي ډول بيان شوې دي او دېته اړتيا ده چې ياد پړاونه نور هم واضح شي تر څو وکولای شی د پروژو د ګټې او اغيزمنتيا کچه تضمين کړي.[14]

د ارزونې د پايلو پر بنسټ، دغه فعاليت " قسماً پلي شوی " ګڼل کيږي ځکه چې وړانديز شوې کړنلارې د تدوين پړاو بشپړ کړی دی خو تر اوسه تاييد شوې نه ده او يا په بله وينا تر اوسه د پروژو په انتخاب کې د تطبيق وړ نه ده.

## دويمه موخه. د کليو د بيارغونی او پراختيا وزارت کې د بريښنايي حکومتوالی پياوړي کول

| شميره | فعاليت | شاخص | مهال ويش |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د آرشيف سيستم ډيجيټل کول | د آرشيف د ډيجيټل شوې سيستم سلنه | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |
| ۲ | د مالي سيستم ارزونه، تر څو چې يو واحد مالی سيستم را منځ ته شي | د مالي سيستم د جوړيدو سلنه | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |
| ۳ | د تدارکاتو د مديريت معلوماتي سيستم را منځ ته کول | د سيستم د جوړيدو سلنه | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |

[12] د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت له چارواکو سره مرکې، ۲۰۱۷، نومبرز ۱۳، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت

[13] له يو چارواکي سره مرکه، ۲۰۱۷، دسمبر ۱۳، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت

[14] د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د پروژو پلان کولو/ټاکلو طرزالعمل، ص ۱-۷، ۲۰۱۷ دسمبر ۲۸

## لومړی فعالیت

د آرشیف د اداري سیستم ډیجټلي کول د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت یوه له نوښتونو څخه ګڼل کیږي. دغه سیستم د یاد وزارت د وارده او صادره مکتبونو د ثبت لپاره طرح شوی دی. همدارنګه یاد سیستم د مکتوبونو بریښنایي او کاغذي کاپۍ ساتل کیږي. دغه سیستم په آنلاین توګه ډیزاین شوی او یوازې د انټرنیت په موجودیت کې ورته لاس رسی شونې دی. که چیرې بریښنا نه وي نو سیستم کار نه کوي ، خو کارکونکي بیا هم مکتوبونه په لیکلي بڼه په لاس ثبتویشبتوي. دا کار د مکتوبونو د ورکیدو څخه مخنیوی کوی او په لاسي توګه د مالوماتو د ذخیروي کاپي(manual back up) دشتون څخه ډاډ ترلاسه کیږي.[١٥]

ددې فعالیت ټاکلي مهال ویش ته په کتو سره ، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د آرشیف سیستم په ۲۰۱۷ کال کې نه دی ډیجیټل کړی. یاد ډیجیټلي سیستم په ۲۰۱۵ کال کې جوړ او له هغه مهال څخه راهیسې کارول کیږي. له ۲۰۱۵ کال وروسته، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د یاد سیستم د بدلون او پراختیا په برخه کې هیڅ بدلون ندي راوستی.[١٦]

سربیره پردې، د آرشیف ډیجیټل سیستم د وزیر په شفاهي امر جوړ شوې دې، له دې امله داسې کوم رسمي سند شتون نلري چې وښيي چې دغه سیستم په ۲۰۱۵ کال کې جوړشوی دی.[١٧] خو د آرشیف په دیوال حکاکي شوې ډبره او د وزارت د کارکونکو سره مرکې دا ښيي چې یاد سیستم په ۲۰۱۵ کال کې د د یاد وزارت د پخواني وزیر ښاغلي نصیر احمد درانی په وخت کې جوړ شوی دی. سره له دې چې د آرشیف ریاست ډیجیټلي سیستم په ۲۰۱۵ کال کې جوړ شوې دې، د ۲۰۱۷ د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان کې داسې ښودل شوي دي چې دغه سیستم به په ۲۰۱۷ کال کې جوړ شي. د فعالیت کارې مهال ویش ته په کتو سره چې دغه فعالیت باید په ۲۰۱۷ کال کې پلې شي، پداسې حال کې چې دغه فعالیت دوه کاله وړاندې بشپړ شوی وه .

## دوهم فعالیت

د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان له مخې، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په پلان کې وه چې یو واحد مالي سیستم جوړ کړي. خو د څارنې او ارزونې کمیټه په دې وه نه توانیده د چې وزارت له اړوند چاراواکو او مسوولینو څخه د دغه فعالیت د پلې کیدو په اړه معلومات ترلاسه کړي. د وزارت هغه مسوولین چې د څارنې او ارزونې کمیټې په دې تړاو ورسره اړیکه ونیوله، له دې پروسې نا خبرې څرګنده کړه. د اړوند ریاست څخه د پرله پسې غوښتنو سره سره د څارنې او ارزونې کمیټې ونه شو کولای چې په دې برخه کې اړین مالومات ترلاسه کړي. نو له دې امله یاده کمیټه نشي کولاي د یاد فعالیت پلي کیدل تایید کړي.

## دریم فعالیت

د کلیو د بیارغونی او پراختیا وزارت په دې وروستیو کې د تدارکاتي مالوماتو د مدیریت سیستم جوړ کړی دی. د وزارت له چارواکو سره د خبرو اترو او همدارنګه د سیستم د څارنې او د اسنادو د ارزونې وروسته، د څارنې او ارزونې کمیټې دا وموندله چې یاد سیستم د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر میاشت کې بشپړ شوی دی.[١٨] کله چې د معلوماتو د مدیریت سیستم واحد(MIS) په وزارت کې د دغه سیستم د جوړولو چارې بشپړې کړې نو د وزارت د تدارکاتو ریاست په یاد سیستم کې د مالوماتو د درجولو لړۍ پیل کړه. د معلوماتو او شمیرو د درجولو لړۍ په پیل کې، سیستم له یو لړ تخنیکي ستونزو سره مخ شو او وې نشو کولای درج شوي

---

[١٥] د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له چارواکو سره مرکې، ۲۰۱۷ د نومبر ۲۰، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت .

[١٦] د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له چاراواکو سره ګروپې مرکې، ۲۰۱۷ د نومبر ۲۳، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

[١٧] ibid

[١٨] د تدارکاتو له ځانګې څخه تر لاسه شوې لیست، ۲۰۱۸ د جنوري لومړۍ نیټه

مالومات ذخیره کړي. له دې امله د تدارکاتو ریاست اړ شو چې د معلوماتو درجول و څنډوي او د معلوماتو د مدیریت واحد یاد سیستم له سره طرحه او ډیزاین کړي.[19] څرنګه چې په وزارت کې د نوي سیستم د جوړولو لپاره د طرحې او ډیزاین کومه ځانګړې کړنلاره(چې په سیستم کې کوم ډول مالومات باید داخل شي) شتون نلري، او نه هم په وزارت کې داسې یو سیستم شته چې د تدارکاتو د ریاست اړتیاوو سره تطابق ولري، له دې امله د معلوماتو د مدیریت سیستم واحد له اړوندو چارواکو سره ناستې ترسره کوي ترڅو ددوې وړاندیزونه راټول کړي او د سیستم جوړولو په برخه کې چې اوس پرې کار روان دې، ترې ګټه واخلي.. سره له دې چې د معلوماتو د مدیریت څانګه دغه سیستم بیا جوړوي، خو دغه فعالیت په لومړي ځل د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کې پای ته رسیدلې وه. له دې امله د څارنې او ارزونې کمیته، دغه فعالیت "پلي شوی " ګڼي.

## دریمه موخه: د ځواب ویني او مسوولیت منلو د کلتور ترویجول

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان وګړو ته د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فعالیتونو په اړه د معلوماتو د ورکولو په موخه د مطبوعاتي کنفرانسونو دایرول. | د مطبوعاتي کنفرانسونو شمیرې | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |
| ۲ | د مشتریانو او مراجعینو لپاره د یوه واحد معلوماتي مرکز جوړول. | د سیستم د پراختیا سلنه | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |
| ۳ | د مشتریانو او مراجعینو د نظریاتو د راغونډولو په موخه د سروې ترسره کول. | د ترسره شوې سروې په پایله کې د هغه راپورونو شمیرې چې خپاره شوې دي | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |

## لومړی فعالیت

د څارنې او ارزونې کمیټې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د رسنیو او عامه پوهاوې ریاست له چارواکو او مسوولینو سره د مرکو په ترڅ کې ومونده چې د د کنفرانسونو د دایرولو څخه د وزارت اصلي موخه په یا وزارت کې د ځواب ویني د فرهنګ ترویجول، په چارو کې د روڼتیا تامین او د عامه وګړو د پوهاوې دکچې لوړول دي دی. د مطبوعاتي کنفرانسونو له لارې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت عامو وګړو ته په کلیو کې د یاد وزارت د لاسته راوړنو او د راتلونکې پلانونو په اړه معلومات ورکوي. مطبوعاتي کنفرانسونه په مرکز او ولایتونو کې د پروژو د پیل او پای په مهال ترسره کیږي. د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د معلوماتو له مخې په ۲۰۱۷ کال کې یې ۲۱ مطبوعاتي کنفرانسونه ترسره کړې دي چې د پروژې د پیل یا بشپړیدو په اړه یې رسنیو او خلکو ته معلومات ورکړي دي.[20] دغه فعالیت پلي شوی ګڼل کیږي، ځکه چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په ۲۰۱۷ کال کې یو شمیر مطبوعاتي کنفرانسونه ترسره کړې دي.

## دویم فعالیت

د معلوماتو مرکزي سیستم یا د مراجعینو د خدماتو واحد ددې لپاره جوړ شوی دی، چې د مراجعینو ستونزې حل کړي. دغه واحد د مراجعینو غوښتنلیکونه ټولوي او په وزارت کې یې اړوندو څانګو ته استوي او همدارنګه له بیلابیلو څانګو څخه مراجعینو ته ځوابونه ورکوي. په دې توګه د مراجعینو د خدماتو واحد نه یواځې چې د یاد وزارت له چارواکو او مسوولینو سره د خلکو مستقیمې اړیکې محدودوي بلکه مالوماتو ته د خلکو لاس رسی آسانوي.

---

[19] د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له چارواکو سره مرکې، ۲۰۱۸ کال د جنورۍ لومړۍ نیټه، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

[20] د کلیو د بیازغونې او پراختیا وزارت د ترسره شویو کنفرانسونو لیست، ۲۰۱۷ دسمبر ۲۵

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له چارواکو سره د خبرو وروسته، د د څارنې او ارزونې کمیټې وموندله چې د مراجعینو د خدماتو واحد پنځه کاله وړاندې (په ۲۰۱۲) کې جوړ شوی وه، خو هغه مهال یې د یوه واحد او منسجم مرکز په توګه فعالیت نه کاوه. په دې برخه کې د چارو د ښه مدیریت په موخه، وزارت ، د یاد واحد د توحید او تنظیم چارو ته د ۲۰۱۷ کال د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان په فعالیتونو ځای ورکړی دی.[۲۱] د وزارت د چارواکو له خولې دغه سیستم تیر کال د یو واحد په توګه کار ترسره کړ او اوس په کره او دقیقه توګه فعالیت کوي. سربیره پردې، د ښه مراجعینو د خدماتو واحد له ۲۰۱۲ کال راهیسې د کلیو د بیارغونی او پراختیآ په وزارت کې فعالیت درلود، خو په تشکیل کې نه وه شامل شوې: د دغه واحد ټول کارکوونکې غیرې دایمی/ملکې کارکوونکي وه. د مراجعینو د خدماتو د واحد له جوړیدو وروسته، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت هڅه وکړه چې حکومت باندې فشار راوړي ترڅو دغه واحد په رسمي توګه د یاد وزارت په تشکیل کې شامل شي.[۲۲] د وزیر د یو حکم له مخې دغه تشکیل منظور شوی دی خو یاد واحد باید د جمهوري ریاست د چارو ریاست له لورې په رسمي توګه د یاد وزارت په تشکیل کې شامل شی.

د یادولو وړ ده چې د فساد پر وړاندې د هر اړخیزې مبارزې په ترڅ کې، مالوماتو ته د لاسرسي د قانون تصویب د افغانستان د دولت یو نوښت ګڼل کیږي. مالوماتو ته د لاسرسي قانون له یوې خوا د هیواد اتباعو ته دا زمینه برابروي چې مالوماتو ته لاسرسی پیداکړي او د بلې خوا دولتي کارکونکو ته دا جرئت ورکوي چې د خلکو سره مالومات شریک کړي. دا قانون د روڼتیا او ځواب ورکونې لپاره یو ښه شاخص ګڼل کیږي.

## دریم فعالیت

د دغه فعالیت پر بنسټ، د مراجعینو د خدماتو واحد دنده درلوده چې د مراجعینو د نظریاتو سروې ترسره کړي. خو د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې ښيي چې د خلکو د نظرونو د ترلاسه کولو په موخه هیڅ ډول رسمي سروې نه ده ترسره شوې. د کلیو د بیارغونی او پراختیا وزارت چارواکي او مسوولین ادعا کوي چې دوې د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان څخه خبر نه وو، نو څرګنده ده چې په پلان کې ددغه شان فعالیت په هکله هم مالومات نه لري. خو په هغه مکتوب کې چې د څارنې او ارزونې کمیټې ته سپارل شوې وه راغلي دي چې د ګډې کمیټې له لورې د وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان بیاکتنې شپږ میاشتې وړاندې د یو سروې له لارې، د مراجعینو دخدماتو واحد له مراجعینو څخه ۳۰۶ پوښتنپاڼې راټولې کړې وې چې د وزارت د تدارکاتو له څانګې سره یې اړیکې نیولې وې او وزارت دغه ټولو غوښتنو ته ځواب ورکړې دی. د وزارت د مسوولینو په وینا دغه ۳۰۶ پوښتنپاڼې یې د یو غیر رسمي سروې له لارې چېپوښتنلیک یې د مراجعینو د خدماتو واحد جوړ کړې وه، راټولې کړې دي.[۲۳] خو څرنګه چې دغه سروې رسمې نه وه، داسې کوم راپور چې اغیز او پایلې یې په ګوته شي شتون نلري. له دې امله د څارنې او ارزونې کمیټې ونشو کړای چې دغه سروې د فساد په وړاندې د مبارزې په رسمي سروې کې شامل کړي، په دې توګه دغه فعالیت نه دې ترسره شوې.

---

[۲۱] د ښه راغلاست له واحد سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د نومبر ۱۷، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت ( کابل، افغانستان)

[۲۲] مکتوب شمیره ۶۵۷۹، دسمبر ۲۰۱۷

[۲۳] د ښه راغلاست له واحد سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د نومبر ۱۸، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

### ځورمه موخه: د موازي ادارو د یو ځای کولو له لارې د وظیفوي تداخل مخنیوی

| شمیره | فعالیت | شاخص | مهال ویش |
|---|---|---|---|
| ۱ | د څارنې او ارزونې له ریاست سره په فزیکي توګه د پروګرانو د حمایوي څانګې یو ځای کول | د څانګو شمیر چې یو ځای شوې دي | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |
| ۲ | د اداري ریاست سره په فزیکي توګه د پروګرامونو د حمایوي څانګې یو ځای کول | د څانګو شمیر چې یو ځای شوې دي | مارچ ۲۰۱۷- مارچ ۲۰۱۸ |

څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، دریاستونو سربیره، یو لړ قراردادي پروګرامونه چې په ملي او ولایتي کچه په کلیوالو سیمو کې پرمختیایي او تسهیلاتي پروژې ترسره کوي، دکلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په تشکیل کې شامل دي. دغه پروګرامونه پراخه کاري ساحه لري او د هیواد په بیلابیلو ولایتونو او سیمو کې بیلابیلې چارې په مخ وړي او بیلابیلې څانګې (مالي، اداري، څارنې، بشري سرچینې، تدارکات او تخنیکي) لري چې له امله یې پروګرامونه په سمه توګه پرمخ ځي.
د تیر کال راهیسې، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت تصمیم ونیو چې د مدیریت د بدلون له لارې په دې برخه کې اصلاحات را منځ ته کړي. ددغه بهیر په لړ کې، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت وغوښتل چې په فزیکي توګه په بیلابیلو پروګرامونو کې موازي څانګې او اداري له اړونده ریاست سره یو ځای کړي.[24] د چارواکو سره د خبرو وروسته او د بدلون د مدیریت د پلان او طرزالعمل د اسنادو د بیاکتنې وروسته، د څارنې او ارزونې کمیټې ته دا ښکاره شوه چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په فزیکي توګه د څارنې او ارزونې او همدارنګه اداری واحدونه له خپلو موازي جوړښتونو سره د وزارت په تشکیل کې یو ځای کړې دي. له بده مرغه داسې هیڅ اسناد شتون نلري چې وښیي چې په ۲۰۱۷ کال کې یادې اداري دې په فزیکي ډول ادغام ( یوه ریاست ته د کارکوونکوتبدلیدل) شوي وي. خو د څارنې او ارزونې کمیټې د یوځای کیدو او ادغام یو پلان چې ۲۰۱۷ کال کې جوړ شوی وه او همدارنګه د څارنې او ارزونې او اداري نوې تشکیلونه ترلاسه کړل چې د فزیکي بدلون او ادغام وضعیت پکې ترسیم شوي دي. د یوځای کیدو او ادغام له پروسې وروسته، ادغام شوي ریاستونه باید نوې لارښوونې او کړنلارې تعقیب کړي. څرنګه چې د څارنې او ارزونې کمیټې په ۲۰۱۷ کال کې د فزیکي ادغام په اړه کوم اسناد نه دې ترلاسه کړې، له دې امله دغه دوه فعالیتونه په قسمي توګه پلي شوي ګڼل کیږي

## د څارنې او ارزونې پړاو

تر ډیرې کچې ناشونې ده چې د څارنې او ارزونې د یوه کره او دقیق سیستم د شتون پرته دې د یو پلان متوقعه پایلې ترلاسه شي. د فساد په وړاندې د مبارزې پلان کې د څارنې او ارزونې اهمیت په پراخه کچه منل شوې اصل دی. په بل عبارت، هره اداره باید یو واحد ځانګړې کړي تر څو چې د فساد په وړاندې د مبارزه د پلان د پلي کیدو څارنه او ارزونه وکړي.
د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې ښیي چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان د پلي کیدو لپاره د څارنې او ارزونې میکانیزم نه دی جوړ کړی، او نه یې کوم ریاست او یا کمیټه ګمارلې ده چې د وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان د پلي کیدو په اړه معلومات راټول او تحلیل کړي.[25]

---

[24] د مدیریت د بدلون په بهیر کې اړونده چارواکو سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال د نومبر ۱۹
[25] له چارواکو سره مرکه، د ۲۰۱۷ کال دسامبر اومه، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

په نتیجه کې، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د موجوده خطرونو د ارزونې په اساس ندی چمتو کړې. د دې سربېره د هغې کمیټې د غړو شمیر ډیر لږ و چې د پلان د چمتو کولو لپاره ګمارل شوي ؤ او پلان د ټیټې کچې له کارکونکو سره ندی شریک شوی. برسیره پر دې د پلان د تطبیق څخه د نظارت په موخه کومه کمیټه هم نده ګمارل شوې.

# سپارښتنې

| شمیرې | سپارښتنې | اوسنی حالت | وضعیت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د خطرونو ارزونه ترسره کړي او د خطرونو د موندنو پر بنسټ، باید د فساد په وړاندې د مبارزې یو نوې پلان جوړ کړي چې د فساد په وړاندې ټولنې زیانمنې برخې تر پوښښ لاندې ونیسي. | د ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه - د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د خطرونو د ارزونې پر بنسټ طرح او جوړ شوې نه دی | |
| ۲ | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د فساد په وړاندې د مبارزې د راتلونکې پلانونو لپاره د څارنې او ارزونې پلان جوړ کړي. د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د فساد په وړاندې د مبارزې د پلان د څارنې او ارزونې لپاره یو هئیت/اداره وګماري. | د ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه- د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان د پلې کولو لپاره څارنه او ارزونه نه ده ترسره کړې | |
| ۳ | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د فساد په وړاندې د مبارزې پلان له ټولو اړونده ادارو سره په سمه توګه شریک او همغږې کړي | د ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه- د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د فساد په وړاندې د مبارزې پلان په پراخه کچه ټولو څانګو او ادارو سره نه دی شریک شوی | |
| ٤ | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د اداري فساد سره د مبارزې راتلونکو پلانونو د څارنې او ارزونې په موخه مشخص، د سنجش او لاسته راوړنې وړ، ریښتونې او د مهال ویش سره سم(SMART)شاخصونه رامنځته کړي چې ښکاره پایلې او اغیزې ولري. | د ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه- د فساد په وړاندې د مبارزې په پلان کې ټاکل شوې شاخصونه د اندازې وړ نه دي. | |
| ٥ | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د پروژو په طرح کولو کې د کنترول میکانیزمونه ولري چې له مخې یې په پروژو کې د فساد د خطر مخنیوې وشي. | د ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه- د پروژو د پلې کولو په مهال د فساد د خطر د مخنیوې لپاره د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت هیڅ ډول د کنترول میکانیزم نلري. | |
| ٦ | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د آرشیف څانګې ته د بریښنا منظم لیرد خوندي کړي، تر څو چې د سیستم د پاتې راتلو او د اطلاعاتو د لاسه ورکولو څخه مخنیوې وشي | د ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه- د آرشیف په څانګه کې د غیرې منظمې برښناله امله ځینې وخت په سیستم کې د اطلاعاتو په ثبتولو کې ستونزې را منځ ته کیږي. | |
| ۷ | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت باید د آرشیف په څانګه کې د غیر مستقیم یا آف لاین اطلاعاتو د مدیریت سیستم جوړ کړي. | د ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه- د اطلاعاتو د آرشیف مدیریت اوسنې سیستم نشي کولای چې غیرمستقیم یا آف لاین اطلاعات ثبت او ذخیره کړي. | |
| ۸ | مالوماتو ته د لاسرسي قانون ټول دولتي ادارات پدې مکلف کښې چې عامه خلکو ته د اړوندو مالوماتو د برابرولو په موخه د عامه اړیکو یو دفتر رامنځته او د یاد دفتر لپاره یو دایمي کارمند وګماري. یاد دفتر به په وزارت کې د اداري فساد پر وړاندې مبارزې د پلان په تطبیق کې ستره مرسته وکړي. | ۱۳۹۶ کال د سلواغې نولسمه: د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت خلکو ته د مالوماتو ورکولو څانګه نلري او اوسمهال دا دنده د رسپشن لخوا ترسره کیږي چې دا څانګه هم د وزارت په تشکیلاتي جوړښت کې نده شامله. | |